د ستراوځواکمن څښتن تعالی په سپیڅلي نامه

Logar

# لوګر

میاشتنی
خپرونه

دتاسیس کال: ۱۳۸۲ هـ . ل

دلوګر اطلاعاتو او فرهنګ ریاست میاشتنۍ سیاسي، علمي، ټولنیزه، دیني او فرهنګي خپرونه

چهارشنبه د۱۳۹۵ کال دوري د میاشتې پنځه ویشتمه، د ۲۰۱۶ عیسوي کال داپریل دیارلسمه (۱) پرله پسې ګڼه (۷۸) لومړی کال، لومړی ګڼه


**نبوي ملغلرې**

❖ هغه چاته هیڅکله منصب مه ورکوئ چې پخپله یې غوښتنه کوي اویایې تمه لري.(بخاری اومسلم)

❖ دهیڅ انسان په زړه کې دوه څیزونه نه یوځای کیږي. (ایمان اوحسد) الحدیث

❖ څوک چې پرکوچنیانوشفقت ونلري اودلویانواحترام ونه کړي هغه زمونږله ډلې څخه نه دی.(ترمذي)

سرلیکنه ...

## دپسرلي پیل او دافغانانو هیلې

کال تیر شو ، سړه هوا دګرمې خواته زورکوي، دانسانانو او د هوا د مرغانو له پاره پسرلی د طبیعت ښکلی موسم او دښکلا منظره ده چې زمونږ زیارکښ بزګران په دې زینتي موسم کې د خپلو کروندو او کرکیلې لپاره منظم پلان جوړوي او دکال په پای کې د پلان پایله ترلاسه کوي. ځکه دکال پیل ته نه یوازې بزګران لیوال دي، بلکې هر وګړی که دنده لري او یا بې روزګاره وي، دخپل ژوند پرمخوړلو کې دځانګړي پلان درلودونکي دي او که له ځینو کسانو سره د ژوندانه په چارو کې پلان نه وي، ګویا په خوب بیده او د هیواد په درد نه خوړونکي کسان به وي. په هر کار کې تصمیم او پلان درلودل انسانان دبریالیتوب لوړو موخو ته رسوي.

که څه هم تیرکال چې په جنګونو او همدا رنګه په سوله ئیزو نانډریو کې تیرشو ، نن هر افغان له دولته هیله او غوښتنه لري، چې نور افغانان بې وسې شوي، د ځورولو او کړیدلو توان نه لري، دنوي کال په لومړیو او د پیلیدو په موسم کې سوله دې په ټول هیواد کې ډاډمنه او تامین کړي.

بیاهم افغانان په نوې کال کې هیلې لري او وایي :دولت چې د تیر کال ترخې تجربې ترلاسه کړې، نو کیدای شي ددې کال لپاره حکومت د ټول ځواک او واک په وړتیا هیوادوالو ته دا ثابته کړي چې رښتیا هم ولس ته کوم خدمت چې په پام کې یې درلود او هغسې لکه چې شوی وای، نه دي شوي؛ اوس نو باید دعملیاتي او ستراتیژیکي پلان د عملي کولو ښه خلکو ته وښایي چې هم دولس په ګټه تمام شي او هم دامنیت په راوستو او د بې روزګاره کسانو لپاره د کارکولو چانس په پام کې ونیول شي تر څو چې ددې کړنو لومړیتوبونه- دوسله والوډلو سره جوړجاړی، په ټول هیواد کې د تل پاتې سولې ټینګښت، پرمختیایي اوبنسټیزې پروژې په کاراچول، زمونږ بې روزګاره ځوانانو ته د کارکولو زمینه برابریدل، داداري فساد مخه نیول او همدارنګه د دولتي ادارو په چوکاټ کې د روابطو ځای پر لیاقت، استعداد او فکري وړتیا باندې بدلول داهغه کړنې دي چې که چیرته دولت لازم تدابیر ورته په پام کې ونیسي او دعملي کیدو پلان یې سم وسنجوي، نو دهیواد څخه به ژر ترژره د بدبختۍ غوړیدلی تغر ټول اوځای به یې د وحدت او د ملي یوالي تغر ونیسي.

ولس ته هم لازم ګڼو چې د پسرلي په ښکلې موسم کې خپلو هیوادوالو ته د خدمت او د دهیواد په آبادولو ، سمسورلو اودنیالګیو په کینولو کې فعاله ونډه واخلي، ځکه نیالګي دطبیعت ښکلا ته زرغون رنګ ورکوي او اودراتلونکي نسل لپاره زمونږ دلاس ښه پاتې اوثواب یې همدغه کسانو ته رسیږي.

نو راځئ چې دپسرلي په موسم کې ځانګړې کاري پلانونه جوړ کړو ، که دولت وي اوکه ولس؛ دواړه په ګډه اوهیوادوالو ته اوږه په اوږه کاروکړي او د هیواد په سمسورونې او روغونې کې اوچت ګامونه واخلي، نو بیا به خپلو هغو هیلو ته چې یادونه یې وشوه په چټکۍ سره ورسیږو او د یوتل پاتې اوډاډمن افغانستان د درلودو شاهدان ووسو. انشاالله

اداره

## د بزګر ورځ د ( سولي نیالګي) تر سرلیک لاندې ولمانځل شوه



لوګر کې د بزګر ورځ په ځانګړو مراسمو د وري په ۹ مه ولمانځل شوه، په دې لمانځغونډه کې دلوګر والي محمد حلیم فدایي، د چاپیریال ساتنې ملي اداري مرستیال محمد واصل بازغ ، دولایت مرستیال قمرالدین شکیب، ولایتي شورا غړو ، امنیه قومندان مل پاسوال محمد داود احمدي، داطلاعاتو او فرهنګ رئیس محمد شفیق پوپل، دنورو ادارو رئیسانو ، کارکوونکو ، قومي مشرانو ، بزګرانو او ګڼ شمېر ځوانانو ګډون کړی ؤ.

دغونډې په پیل کې د کرنې رئیس انجینر همایون عمر ټولو میلمنو ته چې په دغو مراسمو کې ګډون کړی ؤ ، ښه راغلاست وویل.

لوګروالي محمدحلیم فدایي؛ دبزګرورځ دهیواد ټولوزیارایستونکو بزګرانو ته دمبار کي ترځنګ دهغوی په بزګري او کرکیلو رڼایي واچوله اودهغوی هڅې دقدر وړوشمیرلې. فدایي وویل، اوسمهال اړتیا لیدل کیږي، چې په خپل هیواد کې دکرکیلې فرهنګ پیاوړي کړو ، ترڅو زمونږ دهیوادوالولپاره دکرنیزو پیداوارو سرچینه له خپل هیواد څخه لاسته راوړو. نوموړي وویل: د سولې په نوم د نیالګیو کښینولو موخه داده، چې د ځمکې د تخریب مخنیوی کوي، د چاپېریال د ښکلا سبب کېږي او موږ ته د ژوند کولو پېغام راکوي، مونږ دهمدې هدف لپاره د میرابدال غره په لمن کې ۱۲۰۰ نیالګی کینول ترڅو مو چاپېریال شین او په پاکوالي کې مرسته وکړي، نوهر ریاست د دې نیالګیو یواځې د کینولو نه بلکې د ساتلو دنده هم لري.

والي زیاته کړه: مونږ د وطن جوړولو لپاره باید د وینو پرځای خولې توې کړو ځکه د وینو په تویولو وطن نه جوړیږي بلکې په خولو تویولو جوړیږي. د چاپیریال ساتنې اداري مرستیال په خپلو خبروکې په یاده نوښتیزه ورځ باندې خوښې وښوده او زیاته یې کړه، چې دغه ورځ باید په ټول هیواد کې د لوګر ولایت په څېر و لمانځل شي.

همدارنګه د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس محمد شفیق پوپل هم د بزګر ورځ په کلتوري تاریخچه رڼا واچوله او ټولو ادارا تو څخه غوښتنه وکړه چې ددې ورځې په ویاړ دمیر ابدال بابا دغر په ښکلا کې رغنده ونډه ادا کړي.

## سال جدید تعلیمی تحت نام یک افغانی یک مکتب، درولایت لوگر آغاز شد



به گزارش خبرنگار آژانس باختر درمحفلی که به همین مناسبت به تاریخ ۳ حمل درشهرپل علم تدویر یافت، محمد حلیم فدایی والی لوگر روی وضعیت معارف وایجاد صندوق کمک به معارف درمکاتب مرکز و ولسوالی های آنولایت صحبت کرد. والی لوگر افزود ، در برنامه جدید که روی دست است اگر روزانه هر شاگرد وهر باشنده آنولایت یک افغانی را به صندوق های متذکره اهدا نمایند طی سه سال آینده سایر مکاتب که درلوگر فاقد ساختمان می باشد صاحب ساختمان خواهد شد .

انجنیر محمد اکبر ستانکزی رئیس معارف لوگر می گوید: درحال حاضر سه صدوشش مکتب دخترانه وپسرانه درولایت لوگر وجود دارد که یکصدوهفده باب آن فاقد ساختمان می باشد .

باختر


خطرات تماس های تلیفونی / درصفحه سوم

دکرکټ ملي لوبډلوخپلوهیوادوالوته خوشحالي راوړه / دریم مخ


## د لوګرعالي دارالمعلمین ته نوی رئیس معرفي شو

دلوګرولایت د عالي دارالمعلمین نوی ټاکل شوی رئیس د دغه دارالمعلمین استادانو او کارکوونکوته په رسمي بڼه دکب په ۲۵ مه وروپیژندل شو.



د ده د پیژندګلوۍ په غونډه کې د ولایت مقام استازی حاجي زمان جبارخیل، تدریسي مرستیال وزیراحمد مهمند د دارالمعلمین مخکني سرپرست رئیس حمیدالله الهام او د دارالمعلمین استادانواوکارکوونکوونډه اخیستې وه.

د لوګرد پوهنې ریاست ویاند محمد شاپورعرب لوګرجریدې خبریال ته وویل ، چې پوهنې وزارت؛ محمد قاسم فهیمي د مشک عالم زوی، چې د ارزګان اوسیدونکی دی ، د لوګر دارالمعلمین د رئیس په توګه ټاکلی دی.

محمدقاسم فهیمي؛ شاوخوا ۴۰ کاله عمر لري، چې تر دې مخکې د ارزګان د دارالمعلمین رئیس ؤ او د شرعیاتو په برخه کې یې لوړې زده کړې لري.

## حامد کرزي د لوګر ولایت له یوشمېر عالمانو او مخورو سره وکتل

باختر دوري اوولسمه:



د افغانستان پخواني جمهور رئیس حامد کرزي د لوګر ولایت له یوشمېر عالمانو، مخورو، سپین ږیرو او ځوانانو سره وکتل.

د پخواني جمهور رییس مطبوعاتي دفتر باختر آژانس ته خبر ورکړ:

په دې کتنه کې مولوي نیک محمد، جنرال محمد اسلم مسعود، ډاکتر داوود او شهزاده مسعود د نورو په استازیتوب خبرې وکړې او په هېواد کې یې د ملي مسئلو او روانو حالاتو په باب خپلې نظریې او پیشنهادونه له پخواني جمهور رییس سره طرحه کړل.

**په ریاست کې عدل او انصاف هغه وخت راتلی شي، چې لوړپوړي چارواکي له علم اوپوهې نه کارواخلي. «افلاطون»**